# د افغانستـــــان اســــلامي امارت
## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت
## د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست
## د ارشاد او دعوت آمریت
## د خطبو د تنظیم عمومي مدیریت

**د جمعې د خطبې لارښود مؤرخ: ۲۰ /۱۰/۱۴۴۳هجری قمری مطابق ۳۰ /۱۴۰۱/۲هجری شمسی**

# د شرعي حجاب حقیقت، فضیلت، مواصفات او دبې حجابۍ مفاسد داسلام له نظره

الحمد لله الذي أمرالمسلمین برعایة الحجاب ونهاهم عن التبرج بقوله عز من قال: (ولاتبرجن تبرج الجاهلیة الأولی)، والصلاة والسلام علی أفضل الخلق سیدالوری محمد بن عبد الله، وعلی آله واصحابه ومن والاه، امابعد:

**ګرانو او درنو حاضرینو!**

که له یوې خوا د حجاب رعایت د الله تعالی له طرفه قاطع حکم دی؛ لکه چې فرمایي: { يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ } الأحزاب : ۵۹

له بل پلوه امیرالمؤمنین جلالت مآب شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده- حفظه الله تعالی ورعاه- په ( ۵۵۵ج ۱) مؤرخ ۹/۱۵ /۱۴۴۳هـ، ګڼه فرمان کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د شرعي حجاب په اړه دیاد وزارت توضیحي او تطبیقي طرحه منظور کړه؛ چې دافغانستان اسلامي امارت مشرتابه مقام ته تقدیم شوی وه؛ ترڅو د افغانستان متدینه، پتمنې او مسلمانې ښځې شرعي حجاب رعایت کړي.

بناءً لازمه ده چې د حجاب دحقیقت، فضیلت او صفاتو په اړه بحث وکړو.

د اسلام مقدس دین د ژوند په هره برخه کې ځانګړي هدایات او لارښوونې لري چې د هغو لارښوونو او حکمونو څخه یو هم د حجاب حکم دی.

حجاب هغه حقیقت دی، چې الله تعالی یې په اړه مسلمانانو ته امر کړی دی، پیغمبرعلیه السلام هغه صحابه کرامو ته تشریح کړی دی او صحابه کرامو په خپل ژوند کې عملي کړی دی او تر نن ورځې پورې په مسلمانانو او اسلامي ټولنو کې معمول دی او د اسلامي ټولنې برم او عزت په کې نغښتی دی.

اسلام د مسلمانې ښځې لپاره حجاب داسې اصل ګرځولی دی چې د زمانې په تیریدو او د حالاتو په بدلیدو سره په کې هیڅ تغیر او تبدیل او تخفیف نه شي راتلای او حجاب په هره مسلمانه، اصیله او بالغه ښځه باندې فرض دی.

د مسلمانې ښځې لپاره حجاب یوه داسې موضوع ده چې تنازل ورڅخه هیڅ امکان نه لري او په هیڅ شي نه معامله کیږي.

حجاب کوم قبیلوي، قومي، منطقوي تقلید، عنعنه او رسم نه دی؛ بلکې حجاب الهي حکم دی چې عملي کول یې عبادت دی. حجاب داسلامي ټولنې برم، عزت او د پستو اخلاقو دمخنیوی لپاره سدباب دی.

نن سبا چې په افغانستان کې اسلامي امارت حاکم دی او د شرعي حجاب په اړه یې مؤمنو میرمنو ته سپارښتنه کړې ده، ټوله کفري نړۍ دحجاب په ضد یو خوله شوي دی او غواړي چې زمونږ په متدینه او اسلامي ټولنه کې هم هغه بد او فاسد اخلاق رائج کړي چې دوی په خپلو ټولنو کې رامنځ ته کړي دي او مسلمانه ښځه هم بې پته او بې عزته کړي.

د ښځې د آزادۍ او د ښځو د حقوقو ترعنوان لاندې کفري نړۍ لومړی د ښځې څخه حجاب لری کړ، بیایې په مختلط اجتماعي ژوند کې شریکه کړه او په نتیجه کې ښځه د ټولو لپاره دجنسي غریزې داشباع لپاره وسیله وګرځول شوه او ورڅخه ابزاري استفاده وشوه او دښځې حیثیت، شهامت، انسانیت او کرامت تر پښو لاندې شو. غربي دنیا په اتلسمه او نولسمه میلادي پیړیو کې د بې حجابۍ موضوع اسلامي نړۍ ته د پیشرفت او ترقی د راز په

توګه وړاندې کړه؛ چې متأسفانه ځینې اسلامي ټولنې په دغه کاذبه وینا وغولیدی خو- لله الحمد- د بې حجابۍ په ضد مبارزه د افغانستان غیورملت مخکې هم کړی ده او اوس یې هم کوي.

غربیان او ددوی ملګري کله حجاب د بشر د حقوقو مخالف بولي او کله یې دشخصي آزادۍ مخالف بولي؛ حال داچې حجاب د سالم فطرت لرونکې مسلمانې ښځې د عفت جامه او ګاڼه ده.

د بشرحقوق او شخصي آزادي دواړه هغه باطل عناوین دي چې کفر غواړي ددې عناوینو په مطرح کولو سره په ټولنه کې خپل شوم اهداف پلي کړي.

د بې حجابۍ شیطاني فرهنګ تاریخ د آدم علیه السلام زماني پورې رسیږي.

کله چې شیطان په دې وتوانید چې په خپلو وسوسو سره آدم علیه السلام له جنت څخه راښکته کړي او د آدم علیه السلام او د هغه بې بې څخه دحیاء او عزت جامې لریکړي او بالاخره په دې هدف کې بریالی شو او دشیطان دوسوسې له امله د آدم علیه السلام څخه د حیاء او پټ جامې وویستل شوی. ددې واقعې په استناد ویلی شو چې بې حجابي او عریاني هغه ناوړه داعیه ده چې دانسانانو د پلار آدم علیه السلام په وخت کې شیطان مخې ته وړی ده.

الله تعالی فرمايي: {فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَانُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُورِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْءَاتِهِمَا} الاعراف: ۲۰

**ترجمه:** نو وسوسه واچوله دوی دواړو ته شیطان ددې لپاره چې ښکاره کړي دوې ته ددوی هغه پټ کړی شوي غلیظه عورتونه ددوی.

د ټولو شیطاني فکرونو خاوندان په دې لګیادي چې په اسلامي ټولنو کې بې حجابي او بې حیایي څرنګه خپره کړي او هغوی ددې کار لپاره مختلف پروګرامونه او برنامې لري؛ لکه لوڅ فلمونه خپرول، لوڅ عکسونه او تصویرونه نشرول، په میډیا باندې فحش سریالونه چلول، د لیکوالانو او کارپوهانو په وسیله لیکنې او اعتراضونه ترتیبول او نشرول او داسې نور.

مختلفې مؤسسې او حتی دسفارتونو په سطحه کوښښونه کیږي چې دمسلمانانانو په منځ کې بې حجابي، بې پردګي اوعریاني رائج کړي.

یهود او نصارا کوښښ کوي چې څرنګه په اسلامي ټولنه کې د بې حیایي او بې پتۍ کارونه او خویونه خپاره کړي او د بې حجابۍ ناوړه فرهنګ پر اسلامي ټولنه تحمیل کړي ؛ بس دا دوی ارمان دی.

الله تعالی فرمايلي دي:{إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لا تَعْلَمُونَ} النور: ۱۹

**ترجمه:** بیشکه هغه کسان چې خوښه وي چې خوره شي فاحشه او بد نامي په حق دهغه کسانو کې چې ایمان یې راوړي دي، شته دغو کسانو ته عذاب دردناک په دنیا او آخرت کې.

کفري نړۍ د ښځو سره ډول ډول ظلمونه او بې عدالتی کوي او اوس غواړي زمونږ ولس په دغه زهرجنو او درواغجنو شعارونو باندې تیرباسي.

الله تعالی فرمايي: { وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلا نَصِيرٍ} البقرة: (۱۲۰)

**ترجمه:** اوهیڅکله به راضی نشی له تانه (ای محمده) یهودان او نه نصرانیان تر هغې پورې چې متابعت وکړی ته ددین د دوی. ووایه ای محمده صلی الله علیه وسلم (دوی ته چې) بیشکه هدایت د الله (اسلام) همدغه هدایت دی (

اوبس) او قسم دی که چیرې پیروي وکړی ته د خواهشاتو ددوی وروسته له هغه چې راغلی دی تاته له علمه ، نو نه به وی تالره له (عذابه د) الله هیڅ دوست او مدد ګار.

### د حجاب مفهوم او حقیقت :

حجاب د( حجب) څخه اخیستل شوی دی؛ چې ددوه شیانو ترمنځ حائل او پردی ته ویل کیږي.

د حجاب کلمه په قرآن کريم کې د پردې، مانع او پټولو لپاره کارول شوی ده.

لکه په دې آيت شريف کې : {وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ بِالآخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا}الاسراء:(٤٥)
**ترجمه:** کله چې ته قرآن کريم لولې، نو مونږ ستا او پر آخرت باندې د ايمان نه راوړونکو ترمنځ يو پرده حائل ګرځوو.

همدا راز په يو بل آيت شريف کې راځي:{حَتَّى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ} ص:(٣٢). همدا رنګه په سورت اعراف آيت نمبر( ٤٦) ، سورت مريم آيت نمبر(١٧) سورت احزاب آيت نمبر(٥٣) سورت فصلت آيت نمبر( ٥) او سورت شورى آيت نمبر(٥١) کې د حجاب کلمه د پردې، مانع، حائل او پټولو په معنا ذکر شوی ده.

### د حجاب شرعي مفهوم:

حجاب د هغه ځانګړي لباس څخه عبارت دی چې ښځې ورباندې خپل بدن د نامحرم سړي څخه پټوي .

**د شرعي حجاب اندازه:**

که چیرې د حجاب الفاظو ته چې په په قرآن کريم کې او په صحيحو احاديثو کې کې ذکر شوي دي د علماؤ، مجتهدينو، مفسرينو او د محدثينو اقوالو ته په دقت سره ځير شو، وبنو چې شرعي حجاب هغه حجاب ته ويل کيږي چې د زنانه د مخ په شمول ټول بدن ورباندې د بيګانه اشخاصو څخه پټ شي؛ ځکه چې د زنانه بدن د بيګانه اشخاصو څخه پټول لازم او ضروري دي.

د حجاب په اړه په قرآن کريم کې څلور(۴) آيتونه راغلي دي چې درى(٣) آيتونه هر يو يې د حجاب په وجوب دلالت کوي او څلورم آيت په داسې مورد پورى متعلق دى چې دحجاب له قانون څخ مستثنى دى.

**لومړى آيت:**{يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا}الاحزاب:(٥٩)

**ترجمه:** اى نبي ووايه ښځو ته دې او لونو ته دې او ښځو دنورو مؤمنانو ته چه خواره دى کاندي په ټولو ځانونو خپلو د ټکريو ( څادرونو) خپلو څخه ، دا کار (پټول دبدن) نژدې دى ته چه اوبه پيژندل شى دوى (چه اصيلى دى) پس ضرر به ونه رسولي شي دوي ته او الله تعالى بښونکى او مهربانه دى.

ددې آيت دتحت اللفظي معنا څخه معلوميږي چې مخ او بدن دې په څادرونو پټ کړي او بيا دې دضرورت درفع کولو لپاره بيرون راووزي.

د هغه صحيحو رواياتو څخه چې ددې آيت په تفسير کې راغلي دي معلوميږي چې دا آيت د مخ په پټولو کې نازل شوى دى.

د پيغمبرعليه السلام په زمانه کې ښځو به لومړى خپل مخونه په څادر پټ کړل، بيا به بيرون راووتلى او په لوڅ مخ به بيرون نه راوتلى.

١-عن أم سلمة رضى الله عنها زوج النبى صلى الله عليه وسلم قالت لما نزلت هذه الآية:{ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ}(خرج نساء الانصار كأن على رؤوسهن الغربان من السكينة وعليهن أكسية سود يلبسنها) تفسير ابن كثير
**ترجمه:** له ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دى ، هغه فرمايي کله چې داآيت نازل شو((يدنين عليهن من جلابيبهن) دانصارو زنانه به په داسې حالت کې له کورونو راوتلى چې سرونه به يې په تورو څادرونو پيچلي ؤ لکه چې ددوى په سرونو باندې مارغان ناست دي.
که چيرې شرعي حجاب ټول بدت شامل نه واى ام سلمه رضي الله عنه به دانصارو داسې صفت نه کولو.
٢- عن ابن سيرين قال: سألت عبيدة عن قوله( قُلْ لأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلابِيبِهِنَّ ) قال: فقال بثوبه، فغطى رأسه ووجهه، وأبرز ثوبه عن إحدى عينيه. تفسير الطبري
**ترجمه:** امام ابن سيرين رح وايي ما دابوعبيده رح څخه ددې آيت د تفسير په اړه پوښتنه وکړه (يدنين عليهن جلابيبهن) ابو عبيده راته عملا حجاب وښود، هغه ټول سر او مخ پټ کړل او يواځې يوه سترګه يې ښکاره پريښوده.

امام ابن جرير وايي: (لا يتشبهن بالإماء في لباسهن إذا هن خرجن من بيوتهن لحاجتهن، فكشفن شعورهن ووجوههن. ولكن ليدنين عليهن من جلابيبهنّ؛ لئلا يعرض لهن فاسق، إذا علم أنهن حرائر، بأذى من قول) تفسير الطبري

د ابن جرير د وروستۍ جملې څخه معلومېږي چې اصيلې ښځې بايد د وينزو په څير نه وي کله چې دوی د کورونو څخه وزي خپل سر او مخ دې پټ کړي.

ابوبکر جصاص چې دحنفي مذهب مفسر او مجتهد دی د مخ پټول ددې آيت څخه استخراجوي او وايي: (في هذه الآية دلالة على ان المرأة الشابة مأمورة بستر وجهها عن الأجنبيين وإظهار الستر والعفاف عند الخروج لئلا يطمع أهل الريب فيهن) أحكام القرآن للجصاص

دامام جصاص له وينا معلومېږي چې ځواني ښځې د بيګانه سړو په وړاندې د مخ په پټولو مکلفه دي.

همدا رنګه امام زمخشري ، امام نسفي، امام قرطبي او امام بغوي ددې آيت څخه په استدلال سره د بيګانه سړو څخه د ښځو مخ پټول واجب بولي.

ددې ټولو نصوصو څخه په ډاګه معلومېږي چې د پيغمبرعليه السلام په زمانه کې او داصحاب کرامو په زمانه کې ښځو دحجاب لپاره د لوی څادر، نقاب او پردې څخه استفاده کوله او هيڅکله لوڅ مخ بيرون نه راوتلې.

**دوهم آيت:**{وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا}النور(٣١)

**ترجمه:** او ای پيغمبره ! مؤمنو ښځو ته ووايه چې خپلې سترګې دې ښکته واچوي او د خپلو د شرم ځايونو دې حفاظت وکړي او نه دې ښکاره کوي زينت خپل پرته له هغې چې خپله څرګندشي.

الله تعالی په دې آيت کې بيګانه ؤ ته دزينت ښکاره کول حرام کړي دي.

عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه په صحيح روايت سره او دابراهيم نخغي او حسن بصري رحمهم الله څخه روايت دی چې د ظاهري زينت څخه مراد هغه لباس دی چې په هغې سره ښځه خپل باطني لباس پټوي؛ لکه څادر، نقاب چې دهغې د ارادې پرته عادتاً ښکاره وي.

**دريم آيت:** {وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاء حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ}الاحزاب:(٥٣)

**ترجمه:** او کله چه غواړئ له دغو (مطهراتو ازواجو) څخه کوم څيز پس غواړئ هغه ددوی نه دباندې د پردې ، دغه غوښتل باندې له پردی د تاسې ډېر پاک ساتونکي دی د زړونو ستاسي او زړونو ددوي.

اګر چه دا آيت د پيغمبرعليه السلام د بيبيانو په اړه دی ؛ مګر حکم يې عام دی؛ لکه دنورو احکامو په شان ټولو زنانه ؤ ته شامل دی ؛ ځکه الله تعالی د حجاب علت داسې بيان کړی دی:{ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ} دا کار ستاسې او دهغوی د زړونو د پاکۍ بهتره دی. چې دا علت ټولو زنانه ؤ ته شامل دی.

دا لاندې څلورم آيت دی چې دحجاب په باره کې په قرآن کريم ذکر شوی دی ؛ ولی په دې آيت کې يو ډول استثناء او تخفيف بيان شوی دی چې زړو ښځو په باره کې دی.

**څلورم آيت:** الله تعالی فرمايي:{وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاء اللَّاتِي لَايَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ وَأَن يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ}النور:(٦٠)

ترجمه: او هغه ښځې چې دکاره ناسته دي او دنکاح اراده نه لري، پس نشته په دې کومه ګناه چې کيږدي خپل لوی څادرونه په دې شرط چې خلکو ته به دزينت دښکاره کولو کوښښ نه کوي او که چيرې پرده وکړي دا ورته غوره ده او الله تعالی اوريدونکی او پوهه دی.

همدا راز په يو حديث شريف کې راځي: (عن عبد الله : عن النبي صلى الله عليه و سلم قال المرأة عورة فإذا خرجت استشرفها الشيطان) سنن الترمذي

**ترجمه:** ښځه عورت ده، کله چې د کوره ووزي ورپسې شي شيطان چې ګمراه يې کړي.

## د حجاب فضيلت:

۱-په حجاب کې د الله تعالی او دهغه د رسول اطاعت دی او دالله تعالی او دهغه د رسول اطاعت فرض دی.

الله تعالی فرمايلي دي:{ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا } الأحزاب : ۳۶

**ترجمه:** او نه دی روا هيڅ مؤمن سړي او هيڅ مؤمني ښځې ته کله چه حکم وکړي الله او دهغه رسول په يو کار دا چې دوی ته دې اختيار وي په خلاف د امر د الله او دهغه رسول او څوک چه اطاعت نه کوی دالله او دهغه رسول پس په تحقيق سره گمراه شه په گمراهيی ښکاره سره.

الله تعالی فرمايلي دي: {وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا } النور : ۳۱

**ترجمه:** نه دې ښکاره کوي د زينت ځايونه پرته له هغې چه خپله ځرگند شي.

امام سرخسي رح فرمايي: د زينت څخه مراد دزينت ځايونه دي لکه سر، ويښتان، غاړه، سينه، مټه، بازو، ولی، پنډی، پښه او مخ. ( المبسوط للسرخسي)

همدا راز الله تعالی فرمايي: { وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى } الأحزاب :۳۳

**ترجمه:** او قرار ونيسی (ای ښځو) په کورونو خپلو کې او مه ښکاره کوي (ښايست خپل بيگانه سړيوته) په شان د جاهليت (دښځو) ړومبنيو .

**۲-حجاب عفت او پاکدامني ده؛**

الله جل جلاله حجاب دعفت او پاکدامنی عنوان گرځولی دی. فرمايي:{ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ } الأحزاب : ۵۹

په { فَلَا يُؤْذَيْنَ } کې اشاره ده دې ته چې خپلې زنانه مو په حجاب سره په عفت کې وساتئ ترڅو فاسقان ورته کوم تکليف ونه رسوي.

**۳- په حجاب کې د زړه پاکي ده؛**

الله تعالی فرمايي :{ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ } الأحزاب : ۵۳.

**ترجمه:** او کله چې غواړئ له دغو (مطهراتو ازواجو) څخه کوم څيز پس غواړئ هغه ددوی نه دباندي د پردي ، دغه غوښتل د باندې له پردې د تاسي ډير پاک ساتونکي دی د زړونو ستاسي او زړونو ددوي.

ځکه کله چې سترگې څه ونه ويني په زړه کې بدې خاطرې نه اچوي او مؤمنانو زړونه دبدو ارادو څخه پاک وي لکه په حديث کې چې رازي (العين زانية).

**۴-حجاب ستر او پرده ده؛**

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:( إن الله حَيِيٌّ سِتِّيرٌ يحب الحياء والستر) أحمد ، أبو داود

**ژباړه:** بيشکه الله تعالی حياناک دی پرده اچوونکی ده ، حياء او پرده خوښه گڼي .

**۵-حجاب تقوی ده؛**

الله تعالی فرمايي:{ يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْءَاتِكُمْ وَرِيشًا وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ } الأعراف : ۲۶

**ترجمه:** ای ځامنو دآدم –عليه السلام- په تحقيق سره نازل کړی دی مونږ. تاسو ته لباس چې پټوی درباندې عورتونه خپل او لباس د زينت (ښايست) او لباس دتقوی ، چې دغه لباس دتقوی ډير غوره دی.

**۶ـحجاب ایمان دی؛**

د همدې امله الله جل جلاله دخپل خطاب لوری مؤمنې ښځې ګرځولي دي. داسې فرمايي:{ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ } ووايه مؤمنو ښځو ته . په بل آيت کې راځي: { وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ} او دمؤمنانو ښځو ته.

**۷ـحجاب حياء ده؛**

پيغمبرعليه السلام فرمايې: ( الحَيَاءَ مِنَ الإِيمَانِ) صحيح البخاري

**ترجمه:** حياء دايمان برخه ده.

دعبدالله ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: (الْحَيَاءُ وَالْإِيمَانُ قُرِنَا جَمِيعًا فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الْآخَرُ) المستدرك على الصحيحين للحاكم

**ترجمه:** حياء او ايمان دواړه سره تړلي دي کله چې يو وي بل هم وي، کله چې يوه لری شي بل هم له منځه زي.

**۸ـحجاب دغيرت نښه ده؛**

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (الْغَيْرَةُ مِنَ الْإِيمَانِ، وَالْبَذَاءُ مِنَ النِّفَاقِ) قَالَ: قُلْتُ: وَمَا الْبَذَاءُ؟ قَالَ: (الَّذِي لَا يَغَارُ) رواه محمد بن نصر المروزي في تعظيم قدر الصلاة، والقضاعي ورواه عبدالرزاق

**ترجمه:** غيرت د ايمان برخه ده او ديوثي منافقت دی . ماورته وويل چې بذاء څه ته وايي؟ هغه را ته وويل: هغه شخص ته وايي چې غيرت نه ورځي.

امام ابن کثير رح فرمايلي دي: الله تعالی مؤمنان پرته له اجازته دپيغمبرعليه السلام کورته د ننوتلو څخه منع کړل؛ لکه څرنګه چې به دوی دجاهيلت او داسلام په پيل کې کورونو ته پرته له اجازته ننوتل؛ تردې پورې چې الله تعالی په دې امت باندې غيرت وکړ او دوی يې پرته له اجازته کورونو ته دننوتلو څخه منع کړل، چې په دې حکم سره الله تعالی ددې امت عزت او اکرام وکړ. [تفسير ابن کثير]

## د شرعي حجاب مواصفات او شرطونه:

شرعي حجاب ته هغه وخت کامل شرعي حجاب ويل کيږي چې لاندې مواصفات او شرطونه په کې موجود وي.

**لومړی صفت:** د جمهورو مجتهدينو او فقهاؤ په نزد شرعي حجاب هغه دی چې د زنانه ټول بدن پټ کړي. که چيرې حجاب داسې وي چې دبدن ځيني برخې ښکاره او ځيني نوره يې پټه وي، شرعي حجاب ورته نه ويل کيږي.

جمهور مفسرين ددې آيت کريمه په تفسير کې وايي: {يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ } را ښکته دې کړي په خپل ځانونو باندې خپل څادرونه. جلباب هغه لوی څادر ته ويل کيږي چې د جامو دپاسه اغوستل کيږي.

(عن ابن عباس: أمر الله نساء المؤمنين إذا خرجن من بيوتهن في حاجة أن يغطين وجوههن من فوق رؤوسهن بالجلابيب، ويبدين عينًا واحدة) . ابن كثير

**ترجمه:** ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: الله تعالی مؤمنو ښځو ته امر کړی دی چې کله دوی د کورونو څخه دکوم حاجت په بنا وزي، خپل مخونه دې د سر په شمول سره په لويو څادرونو باندې پټ کړي او يواځې يوه سترګه دې پريږدي.[ تفسير ابن کثير]

**دوهم صفت:** حجاب بايد پراخه وي او تنګ نه وي.

په شرعي حجاب کې بل شرط دادی چې حجاب بايد پراخه وي او داسې تنګ نه وي چې دبدن غړي ورڅخه ښکاره شي. ځکه چې د حجاب څخه مقصد دمفاتنو په پټوالی دی هرکله چې د زنانه د بدن اعضاء ورڅخه ښکاری دحجاب هدف نه ترلاسه کيږي.

حضرت عمر ابن الخطاب رضي الله عنه به خلکو ته ويل : (لَا تُلْبِسُوا نِسِاءَكُمُ الْقَبَاطِيَّ، فَإِنَّهُ إِنْ لَا يَشِفُّ يَصِفُ) مصنف عبد الرزاق. ترجمه: خپلو ښځو ته قباطي جامې مه اچوئ ؛ ځکه قباطي جامې ولو که شفافې نه دي خو په جسم پورې چسپيدلې وي.

امام مالک رح ددې روايت په شرح کې وايي: (قال مالك معنى تصف أي تلصق بالجلد) المنتقى - شرح الموطأ

**ترجمه:** په پوستکي پورې کلکه چسپيدلې وي.

**دريم صفت:** حجاب به ډبل وي نازکه او شفاف به نه وي.

پيغمبرعليه السلام دداسې جامو اچول غندلي دي او فرمايي: عن أبى هريرة - رضي الله عنه - أنَّه قال : (نِساء كاسيات عاريات مائلات مُميلاتِ ، لا يدْخُلْنَ الجنة) أخرجه الموطأ.

**ترجمه:** دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه فرمايي: ځينې داسې ښځې به وي چې پټې به وي خو په حقيقت کې بربندې به وي، پردو سړو ته به ميلان کوونکې وي او نور به ځان ته را ماته وي، جنت ته به داخلی نه شي. امام نووي رح د (كاسيات عاريات) په معنا کې وايي: داسې جامې به يې اغوستې وي چې د بدن د پوستکي رنګ به ورڅخه معلوميږي.

په يو بل حديث شريف کې راځي:(عن عائشة رضي الله عنها أن أسماء بنت أبي بكر دخلت على رسول الله صلى الله عليه و سلم وعليها ثياب رقاق فأعرض عنها رسول الله صلى الله عليه و سلم وقال يا أسماء إن المرأة إذا بلغت المحيض لم يصلح أن يرى منها إلا هذا) سنن ابي داود

**ترجمه:** دعائشې رضي الله عنها څخه روايت دی يوه ورځ اسماء بنت ابي بکررضی الله عنهما دپيغمبرعليه السلام خواته ورغله او په تن يې نرى جامې وې، پيغمبرعليه السلام ورڅخه مخ واړولو او ورته يې وويل: اى اسماء!

ښځه چې کله بالغه شي بايد هغې څخه پرته دلاس څخه بل ځای ونه ليدل شي.

**څلورم صفت:** د حجاب لباس په خپل ذات کې زينت نه وي.

د حجاب بل شرط دادی چې حجاب بايد داسې جامه وي چې په خپل ذات کې زينت نه وي. دا په دې معنا چې حجاب دکيفيت له پلوه داسې نه وي چې د خلکو نظرونه را جلب کړي.

ځکه حجاب ددې لپاره دی چې د زنانه زينت، زيب او زينت وسائل پټ کړي، دا به معقوله نه وي چې حجاب خپله د زينت وسيله شي. که چيرې د ستر او حجاب لباس زيب او زينت ولري او دخلکو توجه ځان ته را جلب کړي دا حجاب بيا خپله د زنانه زينت ګرځي.

**پنځم صفت:** حجاب بايد خوشبويه نه وي.

په حديث شريف کې راځي: ( إذا اسْتَعْطَرَتِ الْمَرْأَةُ فَمَرَّتْ على القوم لِيَجِدُوا رِيحَهَا فهى زَانِيَةٌ) أبو داود ، والترمذى

**ترجمه:** کله چې زنانه عطر او خوشبوی ولګوي او په خلکو تيره شوه ددې لپاره چې خوشبوی يې خلکو ته ورسيږي، داسې زنانه زنا کاره ده.

**شپږم صفت:** حجاب به دسړو دلباس سره مشابهت ونه لري.
پيغمبرعليه السلام فرمايلي دي:( لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِالرِّجَالِ مِنْ النِّسَاءِ وَلَا مَنْ تَشَبَّهَ بِالنِّسَاءِ مِنْ الرِّجَالِ ) مسند أحمد
**ترجمه:** زمونږ د ډلې څخه نه ده هغه ښځه چې ځان مشابه کوي د سړو سره او هغه سړو زمونږ د ډلې څخه نه دی چې ځان دښځو سره مشابه کوي.
په يو بل حديث شريف کې راځي: (ثلاثة لا ينظر الله إليهم يوم القيامة : العاق والديوث والمرأة المترجلة تشبه بالرجال) مسند البزار
**ترجمه:** درى کسان دي چې الله تعالى به د قيامت په ورځ دوی ته د رحمت په نظر ونه ګوري: لومړی د مور او يا پلار څخه نافرمانه اولاد، دوهم: ديوث، دري: هغه ښځه چې ځان دسړو سره مشابه کوي.

**اووم صفت:** حجاب به د کافرو زنانهؤ د مخصوص لباس په شان نه وي.

عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما قال : رأى رسول الله - صلى الله عليه وسلم - عَلَيَّ ثوبين معصفرين، فقال : ( إن هذه من ثياب الكفار فلا تَلْبَسها ). رواه مسلم

**ترجمه:** عبدالله ابن عمرو ابن العاص رضي الله عنه فرمايي پيغمبرعليه السلام وليدم چې دوه جوړه زعفراني رنګه جامې مې اچولي دي راته يي وويل: دا د کفارو جامې دي ، مه يي اچوه.

## د بې حجابۍ قباحتونه او مفاسد:

**۱-بې حجابي د الله جل جلاله او دهغه د رسول نافرماني ده.**

څوک چې د الله تعالی او دهغه د رسول دحکم څخه نافرماني وکړي، حقيقت کې هلاک شو.

په حديث شريف کې راځي:(مَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ رَشَدَ وَمَنْ يَعْصِهِمَا فَإِنَّهُ لاَ يَضُرُّ إِلاَّ نَفْسَهُ وَلاَ يَضُرُّ اللَّهَ شَيْئًا ). سنن أبى داود

**ترجمه:** څوک چې دالله او دهغه د رسول اطاعت وکړي په سمه لار شو او څوک چې دالله او دهغه د رسول نافرماني وکړي زيان نه رسوي؛ مګر خپل ځان ته او الله تعالی ته دهيڅ شي ضرر نه شي رسولی.

پيغمبرعليه السلام فرمايي: (كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَمَنْ يَأْبَى قَالَ مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى) صحيح البخاري

**ترجمه:** زما ټول امتيان به جنت ته ځي؛ مګر هغه څوک به نه ځي چې څوک انکار وکړي . صحابه کرامو عرض وکړ څوک دی چې انکار به وکړي يارسول الله ؟ پيغمبرعليه السلام وفرمايل: څوک چې زما اطاعت کوي هغه به جنت ته داخليږي او څوک چې زما نافرماني کوي، دا هغه څوک دی چې انکار کوي.

**۲-بې حجابي د لعنت او د الله تعالی د رحمت څخه د لرې والي لامل ګرځي؛**

په حديث شريف کې راځي: (سَيَكُونُ فِي آخِرِ أُمَّتِي رِجَالٌ يَرْكَبُونَ عَلَى سُرُوجٍ، كَأَشْبَاهِ الرِّحَالِ، يَنْزِلُونَ عَلَى أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ، نِسَاؤُهُمْ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ، عَلَى رُءُوسِهِمْ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْعِجَافِ، الْعَنُوهُنَّ، فَإِنَّهُنَّ مَلْعُونَاتٌ) مسند أحمد

**ترجمه:** زما په اخري امت کې به داسې خلک وي چې دآس په زين باندې به داسې کيني لکه داوښ د څټې په شان او مسجدونو سره به ورځخه کوزيږي -يعنی مسجدونو ته به سواره راځي- ددوی ښځې به داسې وي چې ځيني بدن به يې پټ وي اوځيني نور به يې لوڅ وي، ددوی سرونه به لکه د بختي کمزوري اوښ دکوبې په څير جيګ ولاړ وي.

لعنت ورباندې ووايا‌ست ، ځکه په دغه ښځو لعنت ويل شوی دی.

**۳-بې حجابي دآخرت په ورځ کې توری تياری دي؛**

په حديث شريف کې راځي:(عَنْ مَيْمُونَةَ بِنْتِ سَعْدٍ، وَكَانَتْ خَادِمًا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (مَثَلُ الرَّافِلَةِ فِي الزِّينَةِ فِي غَيْرِ أَهْلِهَا كَمَثَلِ ظُلْمَةِ يَوْمِ القِيَامَةِ لَا نُورَ لَهَا) سنن الترمذي ت شاكر

ترجمه: دميمونه بنت سعد رضي الله عنها چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم خدمتګاره وه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی: دهغه ښځې مثال چې د زينت لباس د پردو په مخکې په زمکه راکاږي د هغه تورتم په څير دی چې هيڅ روښنايي په نه وي.

**۴-بې حجابي منافقت دی؛**

پيغمبرعليه السلام فرمايي:(خَيْرُ نِسَائِكُمُ الْوَدُودُ الْوَلُودُ الْمَوَاتِيَةُ الْمُوَاسِيَةُ إِذَا اتَّقَيْنَ اللَّهَ وَشَرُّ نِسَائِكُمُ الْمُتَبَرِّجَاتُ الْمُتَخَيِّلاَتُ وَهُنَّ الْمُنَافِقَاتُ لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْهُنَّ إِلاَّ مِثْلُ الْغُرَابِ الأَعْصَمِ) السنن الكبرى للبيهقي وقال السيوطي:اسناده صحيح

**ترجمه:** ستاسو دښځو څخه غوره هغه محبت کوونکې ، بچې راوړونکې ، دخاوند سره محبت ساتونکې، ښيګڼه کوونکې ښځه ده کله چې دالله تعالی څخه ويريږي او ستاسو بدې ښځې هغه لوڅې او تکبر کوونکې ښځې دي چې

همدوی منافقي ښځې دي، جنت ته به داخل نه شي ددوی څخه ؛ مګر هغه ښځې چې د سرو مخوکو او سرو پښو والا کارغانو په څیر وي.

**۵- بې حجابي بې شرمي ده؛**
په یو حدیث شریف کې راځي: (عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ( أَيُّمَا امْرَأَةٍ وَضَعَتْ ثِيَابَهَا، فِي غَيْرِ بَيْتِهَا، فَقَدْ هَتَكَتْ مَا بَيْنَهَا، وَبَيْنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، أَوْ سِتْرَ مَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ). (أحمد، ابن ماجه )
**ترجمه:** دحضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی؛ هغه وایي چې رسول الله فرمایلي دي: هر یوې ښځې چې خپل لباس د خپل کور څخه بل ځای له ځان څخه وویستی، یقینا څیرې یې کړه هغه پرده چې ددې او دالله تعالی په منځ کې ده. یا داچې هغه پرده یې له منځه یوړه چې ددې او دالله تعالی ترمنځ ده.
**۶-بې حجابي فاحشه کړنه ده؛**
ښځه عورت دی او د عورت ښکاره کول ډېر ناکاره او فحش کار دی. الله تعالی فرمایي:{ وَإِذَا فَعَلُواْ فَاحِشَةً قَالُواْ وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءنَا وَاللهُ أَمَرَنَا بِهَا قُلْ إِنَّ اللهَ لاَ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاء} الأعراف:۲۸
**ترجمه:** او کله چه وکړي دوی کوم فاحشه عمل نو واي دوي موندلی دی مونږه پر دغه (نا کاره عمل) پلرونه خپل او الله هم امر کړي دی مونږ ته په کولو ددی سره، ووایه ای محمده دوی ته چه بیشکه الله نه کوی امر په فحشاء.
**۷-بې حجابي د ابلیس سنت او طریقه ده؛**
د آدم علیه السلام په واقعه کښ مونږ ته دشیطان حرص او کوښښ په ډاګه معلومیږي چې د پردې او بې حجابۍ په اړه څومره حریص ؤ او دشیطان له اساسي هدفونو څخه هغه بې حجابي او بې پرده ګی ده. الله تعالی فرمایي:{ يَا بَنِي آدَمَ لاَ يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُم مِّنَ الْجَنَّةِ يَنزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْءَاتِهِمَا} الأعراف:۲۷
**ترجمه:** ای ځامنو د آدم-علیه السلا- فریب دی درنه کړي تاسو ته شیطان لکه چه دایستلي یې دي مور او پلار ستاسی له جنته (په فریب سره) په داسې حال کې چه ویستلي یې دي له دی دواړو څخه لباس ددوي؛ ترڅو وښایي دوی ته غلیظه عورتونه ددوی.
په حقیقت کې بې حجابۍ ته را بلل شیطاني پدیه ده.
**۹-بې حجابي د یهودیت لار ده؛**
د ملتونو په ماتولو کې یهود ډیره مخینه لري او یهودو تیر ملتونه د ښځو له لارې مات کړي دي او یهود په دې کار کې لویه تجربه لري. په حدیث شریف کې راځي: (فاتقوا الله واتقوا النساء فإن أول فتنة بني إسرائيل كانت في النساء) متفق علیه
**ترجمه:** وویریږئ له الله تعالی څخه او وویریږئ له ښځو څخه، ځکه لومړۍ فتنه په بني اسرائیلو کې د ښځو له امله رامنځ ته شوه.
**۱۰-بې حجابي دجاهیلت د زماني پلیتي او ګندګي ده؛**
الله تعالی فرمایي: { وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى } الأحزاب :۳۳
پیغمبرعلیه السلام د جاهلیت د زماني رسمونو ته پلیتي او مرداري ویلې ده او فرمایلي یې دي: (کل شيء من أمر الجاهلیة موضوع تحت قدمي) متفق علیه
**ترجمه:** ټول دجاهلیت د زمانې کارونه زما د پښو لاندې پراته دي. یعني باطل دي.
د جاهلیت د زماني شعارونه او دجاهلیت د زماني تبرج او بې حجابي دواړه یوشی دی.
**۱۱- بې حجابي ټیټوالی او پستي ده؛**
بي حجابي او عریاني د حیواناتو د فطرت غوښتنه ده او کوم انسان چې بې حجابۍ ته میلان کوي په حقیقت کې ټیټوالی او دانسانیت ددرجې څخه د حیوانیت درجې ته میلان کوي او دانسانانو اشرف المخلوقاتو له مرتبې څخه ځان دحیواناتو درجې ښکته کوي .
دهمدې وجې نه تبرج او بې حجابي دفطرت د فساد او دغیرت د نشتوالي دلیل دی او داحساس او شعور د مړیني علامه ده.

**اقول قولي هذا استغفرالله لي ولکم ولسائر المسلمین.　　　　والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**